نماز جنازہ کا طریقہ (پشتو)

رسالہ نمبر: 28

# دجنازي د نمانځه طریقه (حَنَفي)




شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

**مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولۍ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولۍ هغه به مو ياد پاتي کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف اولولۍ)

طلب غم
مدینه بقیع
ومغفرت

د رسالي نوم: **د جنازے د لـمانځه طريقه (حَنَفِى)**

اول ځل: ............................................

تعداد: ....................

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالي د چاپ کولو اجازت نشته

**کتاب اخستونکي توجّه اوکړۍ**

که د کتاب په طباعت کښ څه ښکاره خامي وي يا پاڼرې کمي وي يا په بائنډِنګ کښ مخکښ وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړۍ.

# د جنازے د لمانځه طریقه (حَنَفِی)

شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ دا رِساله "نمازِ جنازہ کا طریقہ" په اردو ژبه کښې لیکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالے په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړے دے. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمے، زیاتے اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دے چه مجلِس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش:

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي

برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران
پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان
**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213
**Email:** translation@dawateislami.net

# فہرست

## د جنازے د لمانځه طریقه (حَنَفِي)


د دُرود شریف فضیلت .......................................... 1
د ولي په جنازه کښې د شریک کیدو بَرَکت.......................................... 1
د عقیدت مندو بخښنه هُم اوشوه .......................................... 2
د کفنونو غل.......................................... 4
په جنازه کښې شریکو د ټولو بخښنه.......................................... 4
په قبر کښې اَوَله تُحفه .......................................... 5
د جَنَّتي جنازه.......................................... 5
جنازے سره د ملګرتیا کولو ثواب .......................................... 6
د اُحُد د غر هُمره ثواب .......................................... 6
د جنازے لمونځ د عِبرت باعِث دے .......................................... 6
د مړي د لمبولو فضِیلت.......................................... 7
د جنازے لیدلو د وخت وظیفه .......................................... 7
**نبِي پاک ﷺ د ټولو نه مخکښې د چا جَنازه ادا کړه؟**.......................................... 8
د جنازے لمونځ فرضِ کفایه دے.......................................... 8
د جنازے په لمانځه کښې دوه رُکن او درې سُنَّتونه دي.......................................... 9
د جنازے د لمانځه طریقه (حَنَفِي) .......................................... 9
د بالِغ نارینه او زنانه د جنازے دُعا.......................................... 10
د نابالِغه هلک [د جنازے] دُعا.......................................... 10
د نابالِغه جینۍ[د جنازے] دُعا .......................................... 11
په پیزار د پاسه ولاړ جنازه کول.......................................... 11

د جنازے غائِبانه لـمونځ نه شي کيدے........................................... 12
د يو څو جنازو يو ځائے د لـمانځه کولو طريقه ............................. 12
په جنازه کښې څو صفونه پکار دي؟................................................ 12
که د جنازے پوره جَمعه حاصِله نه کړي نو؟........................................ 13
د ليوني يا د خودکشي کوونکي جنازه ........................................... 13
د مړ ماشوم اَحکام.............................................................................. 13
د جنازے د وړلو ثواب.......................................................................... 14
د جنازے په اُوګو کولو طريقه.............................................................. 14
د ماشوم د جنازے د وړلو طريقه.......................................................... 15
د جنازے د لـمانځه نه د بيرته راتللو مسائِل......................................... 15
آيا خاوند د خپلې ښځې جنازے ته اُوګه ورکولے شي؟........................ 15
د مُرتَد د جنازے حُکمِ شرعي ............................................................ 16
**"فلانکے دِ زما د جنازے اِمامَتي اوکړي" د دې وصيَّت حُکم: ........... 18**
اِمام دِ د مړي د سِينے په سمي اودريږي.............................................. 19
که د جنازے کولو نه بغير ئې خخ کړو نو؟............................................ 19
په چا چې کور راپريوتو او پکښې ډوب شو.......................................... 20
د هغوئي د جنازے لـمونځ ............................................................. 20
په جنازه کښې د ګنړې زياتولو د پاره ناوخته کول.................................. 20
د بالِغ د جنازے د لـمانځه نه مخکښې دا اعلان اوکړئ.............................. 21

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د جنازے د لـمانځه طريقه (حَنَفِی)

شيطان مو که هر څومره منع کوي دا رِساله پوره اولولئ،
اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د دے فائِدے به پخپله اووِينئ.

## د دُرود شريف فضيلت

د اللّٰه تعالٰی د خوږ محبُوب د نبيانو د سردار، مُحَمَّدِ عَرَبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارک دے: ”څوک چې په ما باندې يو ځل دُرُود شريف لوَلي اللّٰه تَعَالٰی د هغه د پاره يو **قِيراط** اجر ليکي او قِيراط د **اُحُد** د غر هُمره دے.“

(مُصَنَّف عبدُ الرَّزّاق ج۱، ص۳۹ حديث۱۵۳، دارالکتب العِلميه بيروت)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د ولي په جنازه کښې د شريک کيدو بَرَکت

**يو** کس د حضرتِ سيِّدُنا سَرِي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په جنازه کښې شريک شو. د شپې ئې په خوب کښې د شيخ سَرِي سَقَطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ديدار اوکړو نو تپوس ئې ترينه اوکړو: مَا فَعَلَ اللهُ بِكَ؟ يعني **اللّٰه** تعالٰی ستاسو سره څه معامله اوکړه؟ هغوئي جواب ورکړو: **اللّٰه** تعالٰی زما او زما په جنازه کښې چې څوک شريک شوي وو او جنازه ئې کړي وه د ټولو **بخښنه** اوکړه. هغه عرض اوکړو: يا سيِّدي! زه هُم **ستاسو** په جنازه کښې شريک شوے ووم او د

جنازے لـمونځ مې کړے وو. نو **هغوئي** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو فهرِست [يعني لِسټ] را او وِيستو خو د هغه سړي نوم پکښې شامِل نه وو، چې کله ئې په غور اوکتل نو د هغه نوم په **حاشِيه** کښې موجود وو. (تارِيخِ دِمشق لابن عساکر ج۲۰، ص۱۹۸) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د عقيدت مندو بخښنه هُم اوشوه

حضرتِ سيِّدُنا بِشرِ حافي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې وفات شو نو قاسِم بِن مُنَبِّه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب کښې اوليدو، تپوس ئې ترينه اوکړو: **مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟** يعني **اللّٰه** تعالیٰ ستاسو سره څه معامله اوکړه؟ هغوئي جواب ورکړو: **اللّٰه** تعالیٰ زه اوبخښلم او اِرشاد ئې اوفرمائيلو: اے بِشرا! ته بلکه ستا په جنازه کښې چې څوک شريک شو هغوئي ما اوبخښل. نو ما عرض اوکړو: يا ربّ تعالیٰ زما سره مُحبَّت کوونکي هُم اُوبخښه. نو د **اللّٰه** تعالیٰ رحمت نور په جوش کښې راغے او اوئې فرمائيل: د قيامته پورې به چې څوک ستا سره مُحبَّت کوي هغه ټول هم ما اوبخښل. (ايضاً ج۱۰ص۲۲۵)

**د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اعمال نہ دیکھے یہ دیکھا، ہے میرے ولي کے در کا گدا
خالق نے مجھے یوں بخش دیا، سبحٰن اللہ سبحٰن اللہ

اعمال نه، دا ئې اوکتل چې فقير زما د ولي د دَر دے
خالِق زه داسې اُوبخښلم، سُبْحٰنَ الله سُبْحٰنَ الله

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د الله تعالیٰ د وليانو سره نِسبت د نيک بختئ باعِث دے، د هغوئي ذِکرِ خير د خيرونو د نازليدو باعِث دے، د هغوئي صُحبت د دواړو جهانو د پاره برکت، د هغوئي د مزاراتو حاضري د ګناهونو د مرضونو دارو او د هغوئي عقيدت په آخِرت کښې د خلاصي ذريعه ده. اَلْحَمْدُلِلّٰه مونړه هم د اولياء کرامو رَحِمَهُمُ الله سره عقيدت او د ولِئ کامِل حضرتِ سيّدُنا بِشرِ حافي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره محبَّت لرو. يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د هغوئي په خاطر زمونړه بخښنه اوفرمائے. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بِشر حافی سے ہمیں تو پیار ہے
ان شاءاللہ اپنا بیڑا پار ہے

بِشرِ حافي سره لرو مونړه محبَّت
اِنْ شَآءَاللّٰه کيږي به زمونړه مغفِرت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د كفنونو غل

د **يوے** زنانه د جنازے په لمانځه كښې يو **د كفنونو غل** هُم شريک شو او د جنازے سره اديرے [مُقبرے] ته لاړو او د قبر ځائے ئې معلوم كړو. چې شپه شوه نو هغه د كفن غلا كولو د پاره هغه قبر اوكنستو. ناڅاپه هغه مرحُومې اووئيل: سُبۡحٰنَ الله يو **مَغفُور** (يعني د بخښنې حقدار) كس د يوے **مغفُوره** (يعني د بخښلې شوې ښځې) كفن غلا كوي! واوره! **الله** تعالیٰ زما بخښنه هُم اوكړه او د هغه ټولو خلقو هُم، چا چې زما د جنازے لمونځ اوكړو او ته هُم په هغوئې كښې شريک وې. (دا ئې چې واوريدل نو هغه فوراً په قبر خاورې واړولې او په ربنتيني توبه ګار شو) (شُعَبُ الْاِيمان ج۷، ص۸ حديث۹۲٦۱)

د اَللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# په جنازه كښې شريكو د ټولو بخښنه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د نيكو بندګانو د جنازے په لمانځه كښې حاضريدل څومره د نيک بختئ خبره ده. چې كله هُم موقع وي بلكه وخت وِيستل پكار دي او د مسلمانانو په جنازو كښې شريک كيدل پكار دي، كيدے شي چې د يو نيک انسان په جنازه كښې شامليدل زمونږ د پاره د بخښنې ذريعه جوړه شي. د خُدائے رَحمٰن جَلَّ جَلَالُهٗ د

رَحمت نه قربان شم چې کله هغه د يو مړي بخښنه کوي نو د هغه په جنازه کښې شريک کيدو والا هم اُوبخښي. چنانچه د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بن عبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنۡهُمَا نه رِوايت دے چې د مدينے تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: "مؤمِن بنده ته به د مرګ نه پس د ټولو نه مخکښې دا جزا ورکولے کيږي چې د هغه په جنازه کښې د شريکـو ټولو کسانو بخښنه به اوکړے شي." (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٤ ص١٧٨، حديث١٣)

## په قبر کښې اَوَله تُحفه

د سرکارِ نامدار، د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه چا تپوس اوکړو: مُؤمِن چې کله قبر ته داخِل شي نو هغه ته د ټولو نه مخکښې څه تُحفه ورکوله شي؟ نو ارشاد ئې اوفرمائيلو: د هغه د جنازې د لـمونځ کوونکـو بخښنه اوکړے شي. (شُعَبُ الْاِيمان ج٧، ص٨، حديث٩٢٥٧)

## د جَنَّتي جنازه

د خوږ خوږ مَکی مَدَنی آقا صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: کله چې يو جَنَّتي کس وفات شي نو الله تعالٰی حيا فرمائي چې هُغه خلقو له عذاب ورکړي څوک چې د هغه جنازه وړي او څوک چې په هغې پسے شا ته روان وي او چا چې د هغه د جنازې لـمونځ اوکړو. (الفردوس بمأثور الخطاب ج١، ص٢٨٢، حديث١١٠٨)

## جنازے سره د ملګرتيا کولو ثواب

حضرتِ سیِّدُنا داؤد عَلَیْہِ السَّلَام د اللّٰه تعالیٰ په بارګاه کښې عرض اوکړو: یا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! چا چې صرف ستا د رضا د پاره جنازے سره ملګرتیا اوکړه، د هغه جزا څه ده؟ اللّٰه تعالیٰ اوفرمائيل: چې په کومه ورځ هغه مړ شي نو فرښتے به د هغه د جنازے سره یو ځائے ځي او زه به د هغه بخښنه کووم. (شَرحُ الصُّدُور ص٩٧)

## د اُحُد د غر هُمره ثواب

د حضرتِ سیِّدُنا اَبُو هُریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د مدینے د سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دے: څوک چې (د اِیمان د تقاضه ګنړلو او د ثواب حاصلولو په نِیَّت) د خپله کوره جنازے سره روان شي، د جنازے لمونځ اوکړي او خخولو پورې جنازے سره اوسي د هغه د پاره دوه قِیراطه ثواب دے چې هر یو قِیراط د اُحُد (غر) هُمره دے او څوک چې صرف د جنازے لمونځ اوکړي او بیرته راشي نو د هغه د پاره د یو قِیراط ثواب دے. (صحیح مُسلِم ص٤٧٢، حدیث٩٤٥)

## د جنازے لمونځ د عِبرت باعِث دے

د **حضرتِ** سیِّدُنا اَبُوذر غِفاري رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ارشاد دے: ما ته حبیبِ پروردګار، د دوارو جهانو سردار صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د قبرونو زیارت کوه چې آخِرت دریادیږي او مړے لمبوه ځکه چې فاني بدن

(يعني مړ وجود) ته لاس لګول ډير غټ نصيحت دے او د جنازے لـمونځ کوه چې دا تا غمژن کړي ځکه چې غمژن اِنسان د **اللّٰه** تعالیٰ [د رَحمت] په سوري کښې وي او د نيکۍ کار کوي. (اَلْمُسْتَدرَک لِلْحاکم ج۱، ص۷۱۱، حديث ۱٤۳٥)

## د مړي د لـمبولو فضِيلت

د حضرتِ سيّدُنا عليُّ المُرتَضٰی، شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه رِوايت دے چې د دوارو جهانو سُلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے چې څوک کوم يو مړے اولـمبوي، کفن ورواغوندي، خوشبو پرې اولګوي، جنازه ئې اوچته کړي، [د جنازے] لـمونځ ئې اوکړي او کومه ناقِصه [يعني د عيب] خبره پکښې اووينې هغه پټه کړي هغه د خپلو ګناهونو نه داسې پاک شي لکه په کومه ورځ چې د مور د ګيډې نه پيدا شوے وو . (سُنَنِ اِبْنِ ماجه ج۲ ص۲۰۱ حديث ۱٤٦۲)

## د جنازے ليدلو د وخت وظيفه

حضرتِ سيِّدُنا مالِک بن اَنَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا چا د وفات نه پس په خوب کښې اوليدو او تپوس ئې ترينه اوکړو: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني **اللّٰه** تعالیٰ ستا سره څه سُلوک اوکړو؟ اوئې وئيل: د يوے کلِمے په وجه ئې اوبخښلم کومه به چې حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د جنازے د ليدلو په وخت کښې وئيله. (هُغه کلِمه دا ده) سُبحٰنَ الْـحَيِّ الَّذِی لَا يَمُوْتُ (يعني هُغه ذات پاک دے کوم چې ژوندے دے، هغه ته به کله هم مرګ نه راځي) لِهٰذا ما به چې

هُم جنازه اوليدله نو هُم دا كلِمه به مي وئيله د دي كلِمے د وئيلو په سبب اللّٰه تعالیٰ زه اُوبخښلم. (اِحياءُالعُلوم ج٥، ص٢٦٦ مُلَخَّصاً)

## نبيِ پاک ﷺ د ټولو نه مخکښي د چا جَنازه ادا کړه؟

د جَنازے لـمونځ د حضرتِ سيِّدُنا آدم صَفِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام د زمانے نه شروع شوے دے، فرښتو د حضرتِ سيِّدُنا آدم صَفِيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام په جنازه باندي څلور تڪبِيرونه لوستلي وو. په اِسلام کښي د جنازے د لـمانځه د واجِب کيدو حُڪم په مدينهٔ مُنَوَّره زَادَهَا اللّٰهُ شَرَفًاوَّتَعْظِيْمًا کښي نازِل شو. حضرتِ سيِّدُنا اَسعَد بِن زُراره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د هِجرت نه پس د نهمي مياشتي په آخِره کښي وفات شو او دا ورومبے صحابي وو د چا د جنازے لـمونځ چي نبيِّ اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوکړو. (ماخوذ از فَتَاوٰی رَضَوِيه مُخَرَّجه ج٥، ص٣٧٥، ٣٧٦)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د جنازے لـمونځ فرضِ کفايه دے

د جنازے لـمونځ ”فرضِ کفايه“ دے يعني که يو کس ئې هُم ادا کړي نو ټول بَرِيُّ الذِّمَّه [يعني د ذِمه وارئ نه خلاص] شو کني [يعني که يو ئې هم اونکړي او] چا، چا ته چي خبر رسيدلے وو او رانغلو نو ټول به ګنهګار وي. د دي د پاره جَمعه شرط نه ده، که يو کس ئې هُم اوکړي نو فرض ادا شو. د دي د فرضِيَّت اِنڪار ڪفر دے.

(بَهارِ شرِيعَت ج١، ص٨٢٥، عالمگِيري ج١ ص١٦٢، دُرِّ مُختار ج٣ ص١٢٠)

## د جنازے په لـمانځه کښې دوه رُکن او درې سُنَّتونه دي

دوه رُکن دا دي: ﴿۱﴾ څلور ځله "اَللّٰهُ اَکبَر" وئيل ﴿۲﴾ قِيام. (دُرِّ مُختار ج۳ص۱۲٤) په دې کښې درې سُنَّت مُؤَکده دي: ﴿۱﴾ ثناء ﴿۲﴾ دُرُود شريف ﴿۳﴾ د مړي د پاره دُعا. (بَهارِ شريعَت ج۱، ص ۸۲۹)

## د جنازے د لـمانځه طريقه (حَنَفِي)

مُقتدي دِ داسې نِيَّت اوکړي: "زه نِيَّت کووم د دې جنازے د لـمانځه، اللّٰه تعالیٰ لره، دُعا د دې مړي د پاره، په دې اِمام پسے" (فتَاوىٰ تاتار خانيه ج۲، ص۱۵۳) بيا دِ اِمام او مُقتدي محکښې غوږونو پورې لاسونه پورته کړي او د "اَللّٰهُ اَکبَر" وئيلو سره دِ ئې د معمول مطابق نامه نه لاندې اوتړي او ثناء دِ اولولي. په دې کښې دِ "وتَعالىٰ جَدُّک" نه پس "وَجَلَّ ثَنَاءُک وَلَآ اِلٰهَ غَيرُک" اولولي بيا دِ لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَکبَر" اولولي، بيا دِ دُرُودِ اِبراهِيم اولولي، بيا دِ لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَکبَر" اولولي او دُعا دِ اولولي (اِمام دِ تکبيرونه په اوچت آواز وائي او مُقتديان دِ ئې په قلاره وائي. باقي ټول اَذکار دِ اِمام او مُقتدي په قلاره وائي) دُعا نه پس "اَللّٰهُ اَکبَر" اولولئ او لاسونه دې زوړند کړئ بيا دې دواړو طرفو ته سلام اوګرځوئ. سلام کښې د مړي، فرښتو او لـمانځه کښې د حاضرو خلقو نِيَّت اوکړئ، هُم هغه شان څنګه چې د نورو لـمونځونو په سلام کښې نِيَّت کيږي، دلته دومره خبره زياته ده چې د مړي نِيَّت دِ هم اوکړي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص ۸۲۹، ۸۳۵ ماخوذاً)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلىٰ مُحَمَّد

# د بالِغ نارينه او زنانه د جنازے دُعا

اَللّٰھُمَّ اغْفِرْ لِحَیِّنَا وَ مَیِّتِنَا وَ شَاھِدِنَا وَ غَآئِبِنَا

اِلٰهي! بخښنه اوکړې زمونږه د هر ژوندي او زمونږه د هر مړي او زمونږه د هر حاضر او زمونږه د هر غائِب

وَ صَغِیْرِنَا وَکَبِیْرِنَا وَذَکَرِنَا وَاُنْثٰنَا ط

او زمونږه د هر وړوکي او زمونږه د هرلوئ او زمونږه د هر نارينه او زمونږه د هرې زنانه.

اَللّٰھُمَّ مَنْ اَحْیَیْتَهٗ مِنَّا فَاَحْیِهٖ عَلَی الْاِسْلَامِ ط

اِلٰهي! ته په مونږکښې چې څوک ژوندي لرې هغه په اسلام ژوندي لرې

وَ مَنْ تَوَفَّیْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَی الْاِیْمَانِ ط

او په مونږ کښې چې چا له مرګ ورکوے نو په ايما ن مرګ ورکړې.

(اَلْمُسْتَدْرَک لِلْحَاکم ج۱ ص۶۸۴ حدیث۱۳۶۶)

# د نابالِغه هلک [د جنازے] دُعا

اَللّٰھُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا

اِلٰهي! دا (هلک) چې مخکښې اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د ګټې] سامان کوونکے جوړکړې

وَّاجْعَلْهُ لَنَآ اَجْرًا وَّ ذُخْرًا

او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت د ضرورت په کار راتلونکے جوړ کړې

وَّ اجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّ مُشَفَّعًا ط

.او دا زمونږ د پاره شفاعت کوونکے جوړ کړې او هٔغه چې د چا سِفارش منظور شي

(کنزُ الدّقائق ص٥٢)

## د نابالِغه جينۍ[د جنازے] دُعا

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا

اِلٰهي دا (جينۍ) چې مخکښې اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د ګټې] سامان کوونکې جوړه کړې

وَّ اجْعَلْهَا لَنَآ اَجْرًا وَّ ذُخْرًا

او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت د ضرورت په کار راتلونکې جوړه کړې

وَّ اجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً ط

.او دا زمونږ د پاره شفاعت کوونکې جوړه کړې او هٔغه چې د چا سِفارش منظور شي

## په پيزار د پاسه ولاړ جنازه کول

که پيزار په ښپو د جنازے لـمونځ کوئ نو د پيزار او زمکې دواړو پاک کيدل ضروري دي او که پيزار اوباسئ او په هغې د پاسه ولاړ [د جنازے] لـمونځ کوئ نو د پيزار تلي او د زمکې پاک کيدل ضروري نه دي. اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د يو سوال په جواب کښې ارشاد فرمائي: "که هٔغه ځائے په مِتيازو وغيره ناپاکه وو يا د چا د پيزار تلي ناپاکه وو او په دې حالت کښې ئې پيزار په ښپو

لـمونځ کړې وي د هغوئي لـمونځ اونه شو، احتياط هُم دا دے چې پيزار اُوباسي او په هغې ښپه کيږدي او لـمونځ اوکړي چې که زمکه يا تلے ناپاکه وي نو په لـمانځه کښې خلل را نه شي. (فَتَاوٰیٰ رَضَوِيّه مُخَرَّجه ج۹، ص۱۸۸)

## د جنازې غائِبانه لـمونځ نه شي کيدے

د مړي مخامخ کيدل ضروري دي، غائِبانه د جنازې لـمونځ نه شي کيدے. مُستحب دا دي چې اِمام د مړي سينے ته مخامخ وي. (دُرِّمُختار ج۳، ص۱۲۳، ۱۳٤)

## د يو څو جنازو يو ځائے د لـمانځه کولو طريقه

يو څو جنازے يو ځائے هُم کيدے شي، په دې کښې اختيار دے چې که ټولې مخکښې وروستو کيږدئ يعني چې د ټولو سِينے اِمام ته مخامخ وي او يا ئې داسې په قطار کيږدئ چې د يو ښپو ته د دويم [د کټ] بر سر وي او د دويم ښپو ته د دريم بر سر وي وَعلیٰ هٰذاالقِياس (يعني په هم دے باندې قياس اوکړئ). (بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص۸۳۹، عالمگِيري ج۱ ص۱۶۵)

## په جنازه کښې څو صفونه پکار دي؟

بهتره دا ده چې په جنازه کښې درې صفونه وي ځکه چې په حديثِ پاک کښې دي: "د چا (د جنازې) لـمونځ چې درې صفونو اوکړو د هغه بخښنه به اوشي." که ټول ووه سړي وي نو يو دِ اِمام جوړ شي، په وړومبي صف کښې دِ درې اودريږي په دويم کښې دوه او په دريم کښې يو. (غُنيه

ص۵۸۸) په جنازه کښې آخرے صف د ټول صفونو نه غوره دے. (دُرِّمُختار، ج۳، ص۱۳۱)

## که د جنازے پوره جَمعه حاصِله نه کړي نو؟

مسبوق (يعني د چا چې څيني تکبيرونه لاړل هغه) دِ خپل باقي تکبيرونه د اِمام د سلام ګرځولو نه پس اووائي او که دا انديښنه وي چې که دُعا وغيره لوَلي نو پوره کولو نه مخکښې به خلق جنازه اُوکو ته پورته کړي نو صرف تکبيرونه دِ اووائي دُعا وغيره دِ پريږدي. د څلورم تکبير نه پس که څوک راغے نو تر څو چې اِمام سلام نه وي ګرځولے شامِل دِ شي او د اِمام د سلام نه پس دِ درې ځله "اَللّٰهُ اَكبَر" اووائي. بيا دِ سلام اوګرځوي. (دُرِّمُختار، ج۳ ص۱۳٦)

## د ليوني يا د خودکشي کوونکي جنازه

څوک چې پيدائِشي ليونے وي يا د بالِغ کيدو نه مخکښې ليونے شوے وي او په هم هغه ليونتوب کښې مړ شو نو د هغه د جنازے په لـمانځه کښې به د نابالِغه دُعا وئيله شي. (جوهره ص۱۳۸، غُنيه۵۸۷) چا چې خودکشي اوکړه د هغه د جنازے لـمونځ به ادا کيږي. (دُرِّمُختار، ج۳ ص۱۲۷)

## د مړ ماشوم اَحکام

که د مسلمان اولاد ژوندے پيدا شو يعني [د بدن] اکثر حِصّه د بهر کيدو په وخت کښې ژوندے وو بيا مړ شو نو هغه ته به غُسل هم ورکوي

او کفن به هُم وراغوندي. ګڼې [يعني که مړ پيدا شو نو] هسې به ئې اولـمبوي او يوه کپړه کښې به ئې اونغاړي او خخ به ئې کړي. د هغه د پاره د سُنَّت مطابق غُسل او کفن نشته او د هغه [د جنازے] لـمونځ به هُم نه کوي. د سر د طرفه د اکثر مقدار سر نه سِينے پورې دے. لِهٰذا که سر ئې رابهر شوے وو او چغې ئې وهلې خو سِينے پورې راوتلو نه مخکښې مړ شو نو د هغه د جنازے لـمونځ به نه کوي. د ښپو د طرفه د اکثر مقدار ملا پورې دے. که ماشوم ژوندے پيدا شو يا مړ پيدا شو يا کچه اوغورزيدو، هغه له دِ نوم کيږدي او هغه به د قيامت په ورځ راپاڅولے کيږي. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج۳ ص۱۵۲، ۱۵٤، بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص۸٤۱)

## د جنازے د وړلو ثواب

په حديثِ پاک کښې دي: "څوک چې جنازه څلويښت قدمه يوسي د هغه څلويښت کبيره ګناهونه به وران کړے شي." او په حديث شريف کښې دي: څوک چې د جنازے څلورو واړو ښپو له اُوګه ورکړي اللّٰه تعالیٰ به د هغه حَتْمِی (يعني مُستقل) بخښنه اوفرمائي. (اَلْجَوْهَرَةُالنَّيِّرة ص۱۳۹، دُرِّمُختار ج۳، ص۱۵۸، ۱۵۹، بَهارِ شرِيعَت ج۱ ص۸۲۳)

## د جنازے په اُوګو کولو طريقه

جنازه په اُوګو کول سُنَّت دي. سُنَّت دا دي چې پرله پسے څلورو واړو ښپو له اُوګه ورکړي او هره پيره لس لس قدمه لاړ شي. پوره سُنَّت دا دي چې مخکښې د سر ښي طرف ته اُوګه ورکړي، بيا د ښپو ښي طرف ته (يعني د ښئ ښپې طرف ته) بيا د سر ګڅ طرف ته او بيا د ښپو ګڅ طرف

ته او لس لس قدمه لاړ شي نو ټول څلويښت قدمه شو. (عالمگيري ج۱ ص۱۶۲، بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص۸۲۲) بعضې خلق جنازه وړلو وخت کښې اعلان کوي، [د کټ د يوے يوے ښيي سره] دوه دوه قَدَمه لاړ شئ! هغوئي ته پکار دي چې داسي اعلان کوي: "[د کټ د يوے يوے ښيي سره] لس لس قَدَمه لاړ شئ".

## د ماشوم د جنازے د وړلو طريقه

که د وړوکي ماشوم جنازه يو کس په لاسو کښې اخستي وي نو باک نشته او په نمبر نمبر دِ ئې د يو نه پس بل په لاسو کښې اخلي. (عالمگيري ج۱ ص۱۶۲) ښځو ته (که د ماشوم جنازه وي او که د غټ خو) جنازے سره تلل **ناجائِزه** او منع دي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص ۸۲۳، دُرِّ مُختار ج۳، ص۱۶۲)

## د جنازے د لـمانځه نه د بيرته راتللو مسائِل

څوک چې جنازے سره [يعني موجود] وي هغه ته لـمانځه کولو نه بغير بيرته تلل نه دي پکار او لـمانځه نه پس د مړي وارِثانو نه چې اِجازت واخلي نو بيرته تللے شي او خخولو نه پس د اِجازت حاجت نشته. (عالمگيري ج۱، ص۱۶۵)

## آيا خاوند د خپلې ښځې جنازے ته اُوګه ورکولے شي؟

**خاوند** د خپلې ښځې جنازے ته اُوګه هُم ورکولے شي، قبر ته ئې هُم کوزولے شي او مخ ئې هُم ليدلے شي. صرف د غُسل ورکولو او ښکاره

بدن ته د لاسو لګولو مُـمانعت دے. ښځه خپل خاوند ته غُسل ورکولے شي. (بَہارِ شرِیعَت ج۱، ص ۸۱۲، ۸۱۳)

## د مُرتَد د جنازے حُکمِ شرعي

د مُرتَد او کافِر د جنازے يو شان حُکم دے. د مذهب بدلولو او عِيسائي (يعني کرسچن) کيدو والا کس د جنازے کولو باره کښې شوي يو سوال په جواب کښې سيِّدی اَعلیٰ حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فَتَاوىٰ رَضَوِيّه جِلد۹، صفحه ۱۷۰ کښې ارشاد فرمائي: که په ثبوتِ شرعي ثابِت وي چې مړ شوي کس "عِياذاً بِالله" (يعني د الله پناه) مذهب بدل کړے وو او عيسائي (يعني کرسچن) شوے وو نو بيشکه د هغه د جنازے لـمونځ او د مسلمانانو په شان تَجهِيز و تَكفِين [يعني كفن دفن] ټول حرامِ قطعی وو. قَالَ اللهُ تعالیٰ (يعني الله تَعَالیٰ فرمائي:)

وَلَا تُصَلِّ عَلٰۤى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ ؕ (پ۱۰، التوبه:۸۴)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالایمان: او په هغوئي کښې د چا د مړي کله هم لـمونځ مه کوه او مه د هغه قبر ته اودريږه.

خو [د جنازے] لـمونځ کوونکي که د هغه د نصرانِيَّت (يعني عِيسائي کيدو) نه خبر نه وو او د مخکښنو معلوماتو په وجه ئې هغه مسلمان ګڼړلو او نه د کفن دفن او جنازے پورې د هغوئي په نِزد د دې کس

نصراني (يعني عِيسائي) کيدل ثابت شوي وو نو په دې افعالو [يعني کارونو] کښې هغوئي اوس هُم معذوره او بے قصوره دي ځکه چې د هغوئي په خيال کښې هغه مسلمان وو نو په هغوئي دا افعال کول د هغوئي په گُمان کښې [د مسلمان گڼړلو وجه] شرعاً لازِم وو، خو که هغوئي هُم د هغه د عِيسائِيَت نه خبرداره وو او بيا ئې [د جنازے] لـمونځ او کفن دفن اوکړو نو قطعاً سخت گنهگار او په وَبالِ کبِيره کښې گرفتار شُو، تر څو چې توبه اونکړي په هغوئي پسے لـمونځ کول مکروه دي. خو [هغوئي سره] د مُرتدِينو معامله کول جائِز نه دي ځکه چې دا خلق به هُم په دې گناه کولو کافِر نه وي. زمونږه شَرعِ مُطَهَّره صِراطِ مُستقِيم ده، اِفراط و تَفرِيط (يعني د اِعتِدال نه زياتول کمول) په يوه خبره کښې هُم نه خوښوي، البته که دا واضِحه شي چې هغوئي ته معلومه وه چې دا نَصراني دے او صرف د حَماقت [يعني بے وقوفئ] او جَهالت په وجه د څه دُنياوي غرض په نِيَّت نه، بلکه هغه ئې د نَصرانِيَّت په وجه د تعظِيم [يعني ادب] حقدار او د کفن دفن او د جنازے د لـمانځه قابل گڼړلے وي نو بيشکه د کوم کوم کس چې داسې خيال وي هغه ټول هُم کافِر او مُرتد دي او هغوئي سره هم هغه معامله کول واجب دي کومه چې د مُرتدينو سره کول پکار دي. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه)

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی د لسمي سيپارے د سُوْرَةُالتَّوْبه په آيت ٨٤ کښې ارشاد فرمائي:

وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓي اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّ لَا تَقُمْ عَلٰي قَبْرِهٖ ؕ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَ هُمْ فَاسِقُوْنَ

[مفهوم]ترجمۂ کنزُالایمان: او په هغوئي کښې د چا د مړي کله هم لـمونځ مه کوه او مه د هغه قبر ته اودريږه. بيشکه هغوئي د اللّٰه و رَسُول نه مُنکر شو او په فِسق (يعني کفر) کښې مړه شُو.

صدرُ الافاضِل حضرتِ عَلّامه مولانا سيّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰي عَلَيْه د دې آيت نه لاندې ليکي: د دې آيت نه ثابت شو چې د کافِر د جنازے لـمونځ په هيڅ حال کښې جائِز نه دے او د کافِرِ قبر ته خخولو او ليدلو د پاره اودريدل منع دي. (خزائِنُ العِرفان ص ٣٧٦)

د حضرتِ سيّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللهُ تَعَالٰي عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې سردار د مدينے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: که هغوئي بيمار شي نو تپوس له مه ورځئ، که مړه شي نو په جنازه کښې ئې مه حاضريږئ . (اِبْنِ ماجه ج١ ص٧٠ حديث ٩٢)

## د ”مدينه“ د پينځه حُروفو په نِسبت د جنازے مُتَعَلِّق پينځه مَدَني ګلونه

### ”فلانکے دِ زما د جنازے اِمامَتي اوکړي“ د دې وصيَّت حُکم:

﴿١﴾ که مړ شوي کس وَصِيَّت کړے وو چې زما د جنازے اِمامَتي دِ فلانکے اوکړي يا دِ ما ته فلانکے کس غُسل راکړي نو دا وصِيَّت

باطِل دے يعني په دې وصِيَّت (د مړي) د ولي (يعني سرپرست) حق نه ځي، خو ولي ته اختيار دے چې که پخپله ئې نه کوي او په هغه ئې اوکړي. (بَهارِ شرِيعَت ج۱، ص۸۳۷) (عالمگيري ج۱ ص۱۶۳ وغيره) که د يو مُتَّقي بزرګ يا عالِم باره کښې ئې وصِيَّت کړے وو نو وارثانو ته پکار دي چې په هغې عمل اوکړي.

## اِمام دِ د مړي د سِينے په سمې اودريږي

﴿۲﴾ مُستَحب دا دي چې اِمام د مړي د سينے مخې ته (يعني د سينے په برابري) اودريږي او د مړي نه دِ لرې نه وي، مړے که سړے وي که زنانه وي يا که زنانه بالِغه وي او که نابالِغه، داسې به هله وي چې صرف د يو مړي جنازه کوي او که يو څو وي نو د يو سينے ته دِ مخامخ او نزدے اودريږي. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج۳، ص۱۳٤)

## که د جنازے کولو نه بغير ئې خخ کړو نو؟

﴿۳﴾ که مړے د جنازے د لـمانځه نه بغير خخ کړے شوے وي او خاورې ئې پرې هم اړوَلي وي نو بيا د هغه په قبر [د جنازے] لـمونځ اوکړئ تر څو چې [د مړي] د شليدلو (چاودلو) ګُمان نه وي، او که خاورې ئې پرې نه وي اړولي نو را اوئې باسئ او جنازه ئې اوکړئ او بيا ئې خخ کړئ، او په قبر [د جنازے] د لـمانځه د ورځو څه شمير مقرر نه دے چې د څو ورځو پورې دِ اوکړے شي ځکه چې دا د موسم او زمکې او د مړي د بدن او د مرَض د اِختلاف په وجه مختلف دي. په ګرمئ کښې به زر

شليږي او په يخنئ کښې به پس. په لـمده او ښوره زمکه به زر او په وچه او غيرِ ښوره زمکه به پس، پيرِ بدن به زر او نرے بدن به پس [شليږي] . (اَيضاً ص۱٤٦)

## په چا چې کور راپريوتو او پـکښې ډوب شو د هغوئي د جنازے لـمونځ

﴿٤﴾ څوک کوهي ته غوزار شو او مړ شو يا پرې کور را اولويدو او مړے ئې نه شو راوِيستلے نو په هم هغه ځائے د هغه جنازه اوکړئ، او که په درياب کښې ډوب شو او را اونه ويستلے شو نو د هغه جنازه نه شي کيدے ځکه چې د مړي د مُصَلِّي (يعني لـمونځ کوونکي) مخې ته کيدل معلوم نه دي. (رَدُّالْمُحْتَار ج۳ ص۱٤۷)

## په جنازه کښې د ګنړې زياتولو د پاره ناوخته کول

﴿٥﴾ که د جُمُعے په ورځ څوک مړ شو نو که د جُمُعے د لـمانځه نه مخکښې کفن دفن کيدے شي نو مخکښې ئې اوکړئ، په دې وجه حصارول چې د جُمُعے د لـمانځه نه پس به ګنړه ډيره وي مکروه دي. (بَهارِشرِيعَت ج۱، ص۸٤۰، رَدُّالْمُحْتَار ج۳، ص۱۷۳ وغيره)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د بالِغ د جنازے د لمانځه نه مخکښې دا اعلان اوکړئ

د **مرحوم** عزیزان او دوستان توجُّه اوکړئ! مرحوم که کله په ژوند کښې ستاسو زړه ازارولے وي یا ئې ستاسو حق تَلفي کړي وي یا پرې ستاسو قرضه وي نو دوئي د **الله** تعالیٰ د رضا د پاره معاف کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه تعالیٰ مرحوم ته به هُم خیر اورسي او ستاسو به هم ثواب اوشي. د جنازے د لمانځه نِیَّت او د هغې طریقه هم واورئ. "**زه نِیَّت کووم د دې جنازے د لمانځه، د پاره د الله تعالیٰ، دُعا د دې مړي د پاره، په دې** [حاضِر] **اِمام پسے.**" که دا الفاظ مو یاد نه وي نو هیڅ باک نشته، ستاسو په زړه کښې دا نِیَّت کیدل ضروري دي چې "زه د دې مړي د جنازے لمونځ کووم" چې کله اِمام صاحب "اَللّٰهُ اَکْبَر" اووائي نو غوږونو ته لاس پورته کړئ او "اَللّٰهُ اَکْبَر" وئیلو سره فوراً د معمول مطابق نامه نه لاندې لاسونه اوتړئ او ثناء اولولئ. په **دویم** ځل چې اِمام صاحِب "اَللّٰهُ اَکْبَر" اووائي نو تاسو د لاسو پورته کولو نه بغیر "اَللّٰهُ اَکْبَر" اووائے، بیا د لمانځه والا **دُرُودِ اِبراهِیم** اولولئ. چې **دریم** ځل اِمام صاحِب "اَللّٰهُ اَکْبَر" اولولي نو تاسو د لاسو پورته کولو نه بغیر "اَللّٰهُ اَکْبَر" اووائے او د بالِغ د جنازے دُعا اولولئ[1] چې کله **څلورم** ځل اِمام صاحِب "اَللّٰهُ اَکْبَر" اووائي نو تاسو "اَللّٰهُ اَکْبَر" اووائے او

[1] که د نابالِغه هلک یا جینئ جنازه وي نو د هغے د دُعا وئیلو اعلان کوئ.

دواړه لاس خلاص کړئ او زوړند ئې کړئ او د اِمام صاحب سره د قاعِدے مطابق سلام اوګرځوئ..

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَـمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## د بالِغ د جنازې د نمانځه نه مخکښ دا اعلان اوکړئ

د مرحوم دوستان او عزیزان توجّه اوکړئ! مرحوم که کله په ژوند کښ ستاسو زړه ازارولې وي یا ئې ستاسو حق وهلې وي، یا پرې ستاسو قرض پورې وي نو د الله د رضا د پاره ئې معاف کړئ، اِنْ شَآءَ الله تعالٰی مرحوم ته به هُم خیر پیښ شي او ستاسو به هُم ثواب اوشي. د جنازې د نمانځه نِیَّت او د دې طریقه هُم واورئ. "نمونځ کووم د دې جنازې د نمانځه، خاص الله جَلَّ جَلَالُهٗ لره، دُعا د دې مړي د پاره، په دې حاضِر اِمام پسې." که دا الفاظ یاد نه شئ لرلې نو هیڅ باك نشته، ستاسو په زړه کښ دا نِیَّت کیدل ضروري دي چه "زه د دې مړي د جنازې نمونځ کووم" چه کله اِمام صاحب "اَللهُ اَکْبَر" اووائي نو غوږونو ته د لاسونو پورته کولو نه پس "اَللهُ اَکْبَر" اووائې او فوراً د معمول مطابق د نامه نه لاندې لاسونه اوتړئ او ثناء اولولئ. چه دویم ځل امام صاحب "اَللهُ اَکْبَر" اووائي



۱: اگر نابالغ یا نابالغہ کا جنازہ ہو تو اس کی دُعا پڑھنے کا اِعلان کیجئے۔

MC 1286

فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net